AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری ۲۰۲۶/۰۶/۲۸

# تنها

کوم دی هغه چي خبر مي شي له حاله
څوک دی هغه چي زما سوي زړه ته ځير شي
څوک دی هغه چي د څو شېبوله پاره
ما سره د درد او غم په دام اسير شي
چي مي وويني پر سوي زړه داغونه
څو چي پوه زما د سوز په آه او وير شي
کوم دی هغه چي رشتيا هم پرما سوځي
څوک دی هغه چي راګډ مي په تقد ير شي
کوم دی هغه چي له ما سره روان شي
ما پر خپله لارکړي سم او زما پير شي
ای زما غوندي دردمنه او خوږمنه
ای چي زما په درد او غم دي زړه زهيرشي
راشه راشه چي مي زړه له درده چوي
راشه خوا ته مي چي خوار او بي نوا يم
راشه روغ مي کړه د سوي زړه زخمونه
راشه راشه چي تنها يمه، تنها يم !


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ